د گلستانِ سلسلهٔ قادریه رضویه عطاریه د یو بزرګ ذِکر، په نوم د

# د حضرت معروف کرخيِ رحمۃ اللہ علیہ

# کرامات



- کله د پیسو نه ډکه شوه
- د اوبو بیماري لرې شوه
- د معروف کرخي رحمۃ اللہ علیہ دعاګانې
- حاجت پوره کوونکې کلمات

پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کرامات

**دُعائے عطار:** یا ربَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله ” د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کرامات “ اولولي یا واوري هغه د سلسلهٔ قادریه د بزرګانِ دِین د فیضان نه مالا مال کړې او هغه بے حسابه اوبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د الله پاک آخري نبـي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: کوم کَس چې په ما باندې سل ځله درودِ پاک اولولي، الله پاک به د هغه د دواړو سترګو ترمینځه اولیکي چې دا کَس د نِفاق او د دوزخ د اور نه آزاد دے او هغه به د قیامت په ورځ د شهیدانو سره ساتي.

(معجم اوسط، 252/5، حديث: 7235)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# ګلّه د پيسو نه ډکه شوه

يو بُزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل ورور د ورېو دکان ته لاړلو او ورور ته د سلام کولو سره هلته کښيناستلو. د سلام جواب ورکولو نه پس د هغه ورور اووئيل: وروره! تاسو دلته کښينئ او زما د دکان خيال ساتئ، زه د يو ضروري کار کولو نه پس راځم. هغه بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دکان کښې ناست وو هغه په بازار کښې څه غريبانان خلق اوليدل. بزرګ هغه رااوغوښتل او ورېو ئې پرې تقسيمول شروع کړل تر دې چې په دکان کښې موجود ټول ورېو ئې په هغوئې باندې تقسيم کړل. کله چې د هغه ورور راغے او دا حالت ئې اوليدلو نو پوښتنه ئې اوکړه: ورېو چرته دي؟ بزرګ اوفرمائيل: هغه خو ما په غريبانانو باندې تقسيم کړل. دا ئې چې واوريدل نو ورور ئې اووئيل: وروره! تاسو خو زه کنګال کړے يم. د ورور دا خبره چې ئې واوريدله نو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاڅيدلو او جمات ته لاړلو او د الله پاک په عبادت کښې مشغول شو. ورور ئې چې کله ګلّه (د پيسو اېښودو بکس) بيرته کړو او اوئې ليدو نو حيران شو چې هغه خو د درهمو نه ډک دے. حساب ئې چې اوکړو نو پته اولګيده چې د يو درهم په بدل اويا درهمه ګټه شوې ده. هغه په زړه کښې اووئيل: دا هر څه زما د ورور په برکت شوي دي. يو څو ورځې پس هغه د خپل ورور بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا له راغے او سلام ئې اوکړو. د سلام د جواب ورکولو نه پس ئې پوښتنه اوکړه: وروره څنګه راغلے؟ هغه اووئيل: وروره! که سبا تاسو د لږ وخت د پاره زما دکان ته تشريف راوړو نو زما د پاره به د سعادت خبره وي. بزرګ اوفرمائيل: تهٔ

دا خبره څکه کوې چې په هغه ورځ تا ډېره زياته ګټه کړې وه. بيا به زه ستا دکان ته نه درځم او هر ځل داسې معامله نه کيږي، په دې کښې زما هيڅ کمال نشته. (عیون الحکایات:ص:198) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ اولياء! تاسو ته معلومه ده چې هغه بزرګ کوم چې د خپل ورور د دکان ټول وره په غريبانانو باندې تقسيم کړل او د هغوئي په برکت او کرامت د دکان ګله د پيسو نه ډکه شوه هغه څوک وو؟ هغه عظيمه هستي مشهور بزرګ حضرت معروف کرخي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ وو. د هغوئي مبارک نوم "معروف بن فيروز کرخي" دے، د هغوئي دعاګانے به اکثر قبليدلې، هغوئي ډېر مشهور صوفي او پرهيزګاره بزرګ دے. حضرت سري سقطي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د هغوئي په شاګردانو کښې دے، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په 200ھ کښې د دې فاني دنيا نه سفر اوکړو، د هغوئي مزار مبارک په "بغداد شريف" کښې د دجله درياب په ګڅه غاړه خپل برکتونه تقسيموي، د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د قبر انور په وسيله خلق د (بيمارو) نه شفا حاصلوي، بغداد والا به وئيل: د هغوئي مزارِ اقدس د (شفا حاصلولو او د دُعا د قبليدو) مرکز دے.

(رساله قشيريه، ص26. الاعلام للزرکلی، 269/7. وفيات الاعيان، 445/4-446)

د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د عزت و عظمت او شان و شوکت اندازه د هغوئي د

دې واقعاتو نه په صحيح طريقے سره لګيدے شي،

## د بغداد لوئے عالِم

حضرت قاري اسماعيل بن شداد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي: حضرت سفيان بن عُيَيْنَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږ نه پوښتنه اوکړه: ستاسو تَعَلُّق د کوم ځائے سره دے؟ مونږه اووئيل: د بغداد سره. بيا ئې پوښتنه اوکړه: د هغه حِبر (يعنې لوئے عالِم) څه اوشول؟ مونږه پوښتنه اوکړه: څوک؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: معروف کرخي. بيا ئې اوفرمائيل: تر څو چې هغه په تاسو کښې موجود دے تاسو به هميشه په خير اوسئ.

(حلية الاولياء، 410/8، رقم: 12714)

## په زمکه او آسمان کښې شهرت

حضرت عُبيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ګَس د مُلکِ شام نه د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سلام د پاره حاضر شو، خلقو د هغه نه د دې وجه اوپوښتله نو هغه اووئيل: ما په خوب کښې اوليدل چې ما ته وئيلے کيږي: د معروف خوا له لاړ شه او هغه ته سلام اوکړه ځکه چې هغه په زمکې والؤ کښې هم مشهور دے او په آسمان والؤ کښې هم مشهور دے. (يعنې د هغوئي ولي کيدل په زمکې والؤ او آسمان والؤ فرښتو کښې مشهور دے).

(حلية الاولياء، 409/8، رقم: 12708)

## په محبتِ الٰهي مست

حضرت عبدُ الله انصاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي: ما حضرت معروف کرخي

رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه په خوب کښې اوليدلو، لکه چې هغوئي د عرش په سوري کښې دي او الله پاک فرښتو ته فرمائي: اے زما فرښتو! دا څوک دے؟ فرښتو عرض اوکړو: تا ته بهتره معلومه ده. دا حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه دے او دے ستا په محبت کښې داسې مست دے کوم چې به هم ستا په ملاقات باندې ختميږي.

(حلية الاولياء، 410/8، رقم: 12715)

ایسا گمادے ان کی وِلا میں خدا ہمیں	ڈھونڈا کرے پر اپنی خبر کو خبر نہ ہو

(حدائقِ بخشش، ص: 130)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب	صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه صاحبِ کرامت بزرګ وو، د هغوئي نه ډير کرامات ظاهر شول. راځئ! د هغوئي يو څو کرامات[1] اورو:

## (1) وَرَک شوے ځوي ميلاؤ شو

حضرت ابو محمد ضرير رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه بيانوي چې زما ګاونډي حضرت مَردَوَيه رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه د هغوئي خوا له د تللو ما ته پيغام را اوليږو، زه چې راغلم

---

[1] ... د کرامت تعريف: د الله پاک د ولي نه چې خلافِ عادت کومه خبره ښکاره شي.(بهارِ شريعت، 58/1، حصه: 1 بتغيرِ قليل) د خلافِ عادت خبرې نه مُراد هغه کار دے کوم چې عام طور د هر انسان نه نۀ ظاهريږي مثلاً په هوا کيدل، په اوبو باندې تلل وغيره افعال چې عام طور انسان نۀ خو په هوا کښې الوتے شي او نه په اوبو باندې ګرځيدے شي. ياد ساتئ! د کرامت نه مُنکر (يعني انکار کوونکے) ګمراه دے. (بهارِ شريعت، 269/1، حصه: 1)

نو هغوئي اووئيل چې د ډيرو ورځو راسې زما ځوي بے درکه دے او د زنانوٓ د ژړا په وجه زه ډير پريشانه يم، تاسو سحر ما د حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خوا له بوځئ. زه او هغه سحر جمات کښې د حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په خدمت کښې حاضر شو، د سلام دعا کولو نه پس حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پوښتنه اوکړه: اے ابو بکر! څنګه راغلئ؟ حضرت مَردَوَيه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه عرض اوکړو: حُضورا! زما ځوي د څو ورځو راسې غائب دے او د زنانوٓ د ژړا په وجه زه ډير پريشانه يم. حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه درې ځله دا دُعا اوکړه: يَا عَالِمًا بِكُلِّ شَيۡءٍ وَيَا مَنۡ لَا يَخۡفٰى عَلَيۡهِ شَيۡءٌ وَيَا مَنۡ عِلۡمُهٗ مُحِيۡطٌ بِكُلِّ شَيۡءٍ اَوۡضِحۡ لَنَا اَمۡرَ ذَا الۡغُلَامِ يعنې اے د هر څيز علم لرونکيه! اے هغه ذاته د کوم نه چې هيڅ يو څيز پټ نه دے! اے هغه هستئ د کوم علم چې هر څيز راګير کړے دے! په مونږ باندې د دې هلک معامله ظاهره کړه. بيا مونږ د هغوئي د خوا نه راغلو. حضرت ابو محمد ضرير رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: په بَله ورځ د سحر د لمُونځ نه مخکښې د حضرت مَردَوَيه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه قاصد يعنى استاذے زما خوا له راغے، ما د هغه نه پوښتنه اوکړه: څه خبر دے؟ هغه اووئيل چې هلک راغلے دے، زه چې کله لاړم نو ما اوليدل چې ماشوم د حضرت مَردَوَيه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه مخې ته ناست دے. حضرت مَردَوَيه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ما ته اووئيل چې د حيرانتيا يوه خبره واوره، دې ماشوم اووئيل: زه په کوفه کښې روان ووم چې دوه کَسان زما خوا له راغلل او زه ئې د لاس نه اونيولم او د کوفې نه ئې بهر راوستم او ما ته ئې

اووئیل: د خپل کور په لور روان شه، زه په لاره کښې نۀ چرته کیناست یم، نۀ مې څه خوړلي څښلي دي حالانکه زه د 9 کوهیانو یا 90 کوهیانو په خوا راتیر شوے یم، ما له دوډئ راکړئ، ستاسو خوا له تر رارسیدو پورې ما هیڅ نه دي خوړلي. (حلیة الاولیاء، 406/8، رقم:12696) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ واٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2): د اوبښ بیماري لرې شوه

یو ځل د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا له یو کَس راغے، د هغه سره یو اوبښ هم وو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته ئې اووئیل: دا زما اوبښ دے، زما په کور کښې ډیر خلق دي او د ده په ذریعه زما د کور ګزاره روانه ده. زه په ده باندې محنت مزدوري کووم او په ده باندې د سورلئ کولو سره د خپل کور والؤ خوا له ځم او دا د دریو ورځو راسې بیمار دے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ته اوفرمائیل: تۀ څه غواړې؟ هغه عرض اوکړو: زه غواړم چې تاسو الله پاک ته زما د پاره سوال اوکړئ. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خلقو ته اوفرمائیل: د خپل ورور د پاره د الله پاک نه سوال اوکړئ چې الله د ده نه مصیبت لرې کړي. هغوئي لاسونه پورته کړل بیا هغوئي دُعا اوکړه. د سترګو په رَپ کښې د اوبښ بیماري لرې شوه. (مناقب معروف الکرخي، ص:160)

بتغير قليل) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (3) د شرابيانو توبه

حضرت ابراهيم اَطرُوش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مونږه په بغداد شريف کښې د دِجله درياب په غاړه د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره ناست وو چې يو څو ځلمي د تمبل وهلو، شرابو څښلو او لوبو ټوقو کولو سره په يوه وړه شان کشتۍ کښې زمونږ په خوا تير شو. خلقو حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته عرض اوکړو: آيا تاسو دوئي ته ګورئ چې څنګه ښکاره د الله پاک نافرماني کوي؟ تاسو دوئي ته ښيرې اوکړئ. هغوئې لاسونه پورته کړل او دُعا ئې اوکړه: اے الله پاکه! لکه څنګه چې تا دوئي له په دُنيا کښې خوشحالي ورکړې ده هم دغه شان په آخرت کښې ئې هم خوشحاله لره. خلقو عرض اوکړو: مونږه خو تاسو ته د ښيرو کولو د پاره وئيلي وو. هغوئې ارشاد اوفرمائيلو: الله پاک چې دوئي ته د آخرت خوشحالئ ورکوي نو (د مرګ نه مخکښې به) ورله د توبے توفيق ورکړي. لږ وخت تير شوے وو چې هغه ځلمي د شرابو کبابو غورځولو سره د هغوئې په خدمت کښې حاضر شول او د هغوئې په لاس ئې بيعت اوکړو او د غلطو کارونو نه توبه کړه. د دې نه پس هغوئې خپلو ملګرو ته اوفرمائيل: تاسو اوکتل چې د څه

غرقیدو او تکلیف رسولو بغیر مونږ ته زمونږ مراد حاصل شو. (احیاء العلوم، 190/4. تذکرة اولیاء، 242/1 مُلخصاً) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کرم ہو واسطہ کل اولیا کا　　　مرا ایمان پہ مولیٰ خاتمہ ہو

(وسائلِ بخشش، ص: 316)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ اولیاء! د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې واقعې نه مونږ ته دا درس میلاویږي چې نفرت د ګناه نه پکار دے نۀ چې د ګنهګار نه. که هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته ښیرې کړے وے نو هغوئي به هلاک شوي وو او د هغوئي آخرت به تباه شوے وے، خو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته د هدایت دُعا اوفرمائیله او د هغوئي د خیر د دُعا په برکت سره هغوئي د ګناهونو نه توبه کړه او په نیغه لار روان شول. مونږ له هم پکار دي چې چا ته هیڅ کله هم ښیرې نه کوو ځکه چې په حدیثِ پاک کښې د دې نه منع فرمائیلے شوې ده، د الله پاک آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: تاسو خپلو ځانونو ته ښیرې مه کوئ، مه خپل اولاد ته ښیرې کوئ او نه خپلو مالونو ته ښیرې کوئ، چرته داسې نه وي چې دا هغه ساعت وي په کوم کښې چې د الله پاک نه د څه د عطا کولو سوال

اوکړے شي نو هغه دُعا قبليږي.

(مسلم، ص: 1226، حديث: 7515)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (4) مشکل حل شو

حضرت قاري ابو الحجاج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما کور کښې د ماشوم ولادت اوشو، زما سره څه هم نه وو، ما په دې باره کښې حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته عرض اوکړو نو هغوئي اوفرمائيل: اے وروره! الله پاک نه دُعا اوغواړه، هغوئي به دُعا کوله او ما به امين وئيلو او کله چې به ما دُعا کوله نو هغوئي به امين وئيلو، کله چې د دُعا سلسله اوګرځېده شوه نو زه پاڅيدم او غلے شان بهر راغلم، ناڅاپه ما اوليدل چې يو سورلئ کوونکے ما ته د شا اړخ نه آواز کوي، د هغه سره د پيسو يوه تهيلئ وه. هغه ما ته اووئيل: حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تاسو ته وئيلي دي چې دا تهيلئ په هغه کار کښې اولګوه د کوم چې تاسو هغوئي ته ذِکر کړے وو او په هغه تهيلئ کښې 100 ديناره يا دې ته نزدې وو. (حلية الاولياء، 8/407، رقم: 12698) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رَبِّ کريم په رضا باندې راضي

د حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يو ديني ورور يو ځل هغوئي له دعوت ورکړو. هغوئي د يو نيک کَس لاس اونيولو او هغه ئې دعوت ته بوتللو. کله چې هغه نيک کَس قِسما قِسم خيزونه اوليدل نو په هغه بد اولګيدل او هغه اووئيل: اے ابو محفوظ! آيا تاسو دې ته نه ګورئ! هغوئي اوفرمائيل: ما دې خلقو ته د دې ښيزونو اخستلو حکم نه وو کړے. کله چې هغه حلوه اوليدله نو اوئې وئيل: سُبۡحٰنَ الله! اے ابو محفوظ! آيا تاسو ديځوا نه ګورئ؟ هغوئي اوفرمائيل: ما دوئي ته د دې د پخولو حکم نه دے کړے. بيا چې هغه مختلف قسم مټايان اوليدل نو اوئې وئيل: آيا تاسو دې ته نه ګورئ؟ هغوئي اوفرمائيل: تا زما نه ډيرې پوښتنې اوکړې، زه خو يو پوهه غلام يم، زما آقا چې په ما څه خوري زه ئې خورم، چرته چې ما د ميلمستيا د پاره حصاروي هلته حصاريږم.

(حلية الاولياء، 8/407، رقم: 12699)

## اوګړد اُميد په نيک عمل کښې خنډ

يوه ورځ حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د لمُونځ د پاره اقامت اوکړو. بيا ئې حضرت محمد بن ابي توبه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته ارشاد اوفرمائيلو: رامخکښې شئ او مونږ له جَمعه راکړئ. د دې وجه دا وه چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به جَمعَه نه ورکوله، بلکه صرف اذان او اقامت به ئې کولو. جَمعَه به بَل چا ورکوله.

حضرت محمد بن ابي توبه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عرض اوکړو: که زه تاسو له د دې لمُونځ جَمعه درکړم نو د بَل لمُونځ جَمعه به درله نه درکووم. دا ئې چې واوریدل نو هغوئې رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائیلو: آیا تۀ د بَل لمُونځ اُمِّید لرې؟ مونږ د اوګږدو امیدونو نه د الله کریم پناه غواړو ځکه چې دا د بهترین عمل نه منع کوي.

(حلية الاولياء، 8/405، رقم: 12688)

## په الله پاک باور کوه

حضرت محمد بن مَسلَمه یامي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیانوي: حضرت معروف کرخي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه یو کَس ته اوفرمائیل: په الله پاک باندې باور لره تر دې چې هغه ستا مُعلِّم (ښودلو والا)، هغه ستا اَنِیس (محبت کولو والا) او ستا عرضونه د هغه په بارګاه کښې وړاندې شي او د مرګ یاد ستا سره داسې وي چې ستا نه چرې هم جدا نه وي. پوهه شه چې کوم ازمیښت او مصیبت هم په تا باندې نازل وي د هغې نه خلاصے د هغې په پټ ساتلو کښې دے ځکه چې خلق نۀ تا له فائده درکولے شي، نۀ نقصان در رسولے شي، نۀ څه ستا نه منع کولے شي او نۀ تا له څه درکولے شي.

(حلية الاولياء، 8/404، رقم: 12683)

## د تجارت ترغیب

حضرت معروف کرخي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما حضرتِ بکر بن خُنَیس

رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په دې فرمائيلو واوريدلو چې اخستل او خرخول کوه اګرچه په اخستونکي قيمت باندې وي ځکه چې په هغه مال کښې هم داسې برکت وي لکه څنګه چې په کرونده [يعني زراعت] کښې را زرغونيدل وي.

(حلية الاولياء، 408/8، رقم: 12704)

## د اللّٰه معرفت کافي دے

يو کَس حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ته عرض اوکړو: ”اے ابو محفوظ! ما ته اووائې چې تاسو کوم څيز د مخلوق نه په جدا کيدو او په عبادت الهي باندې راغب کړئ؟“ هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه خاموش پاتې شول نو هغه هم پخپله اووئيل: د مرګ ياد؟ هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه اوفرمائيل: ”مرګ څه څيز دے؟“ هغه اووئيل: د قبر او برزخ ياد؟ هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه اوفرمائيل: ”قبر څه څيز دے؟“ بيا هغه اووئيل: د دوزخ ويره او د جنت اميد؟ نو هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه اوفرمائيل: ”دا څه څيز دے؟ بے شکه دا ټول څيزونه د يو بادشاه په قبضه کښې دي که تهٔ د هغه سره محبت اوکړې نو هغه به ستا نه هر څه هير کړي او که ستا او د هغه ترمينځه پيژندګلو اوشي نو هغه به د دې هر څه په مقابله کښې ستا د پاره کافي شي.“

(احياء العلوم، 22/5)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرامين

اے عاشقانِ اولياء! حضرت معروف کرخي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه چې چرته د خپل سيرت او کردار په ذريعه باندې د خلقو اصلاح اوفرمائيله هلته ئې د خپلو پاکو فرامينو په ذريعه هم د خلقو په ژوند کښې انقلاب راوستلو، هغوئي فرمائي:

❁ "دُنيا د خلورو څيزونو نوم دے: (1) مال (2) خبرې (3) خوب او (4) خوراک. مال د سرکشۍ (نافرمانۍ) سبب دے، خبرې په لهو و لَعِب (يعني لوبو ټوقو) کښې اخته کوي، خوب غافله کوي او خوراک د زړه د سختۍ سبب دے."

(طبقاتِ اولياء، ص: 285)

❁ د رَبِّ کريم د نافرمانۍ کولو سره د رحمت په طمع کښيناستل جهالت او کم عقلي ده.

(حلية الاولياء، 411/8، رقم: 12718 مُلتقطاً)

❁ اے مسکينه! تهٔ به کله ژاړې او کله به پوهيږې؟ مخلص جوړ شه او خلاصے بيامومه.

(حلية الاولياء، 411/8، رقم: 12718 ملتقطاً)

❁ په سخت وخت کښې چې د کوم څيز حاجت وي هغه قربانول سخاوت دے.

(حلية الاولياء، 411/8، رقم: 12718 ملتقطاً)

❁ صرف يوه خرابه نمرۍ بعضې وخت د زړه حالت داسې تباه کوي چې

بیا تول عمر زړه په نیغه لاره نه راځي.

❁ بعضې وخت هم هغه خرابه نمرېځ پوره کال د تهجدو د نعمت نه انسان محرومه کوي.

❁ بعضې وخت یو ځل بد نظر کوونکے ډیره موده د قرآنِ کریم د تلاوت د سعادت نه محرومه کولے شي.

(مِنهاج العابدین، ص: 97 ملتقطاً)

❁ د بنده بے فائدے خبرې کول د الله پاک د مدد نه د محرومئ نښه ده.

(حلیۃ الاولیاء، 405/8، رقم: 12691 ملتقطاً)

❁ الله پاک فرمائي: زما په بندګانو کښې زما د ټولو نه زیات محبوب هغه مسکینان دي کومو چې زما فرمان واوریدلو او زما حکم ئې اومنلو او زما په ذمه د هغوئي اعزاز دا دے چې زه هغوئي ته دنیا عطا نه کړم د پاره د دې چې هغوئي (د دنیا نه د بے رغبته پاتې کیدو سره) زما د عبادت په لور متوجه پاتې شي.

(تهذیب الآثار للطبري، 301/2، رقم: 510)

❁ د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړے شوه: دُنیا د زړه نه څنګه ویستے شي؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: د خالص محبت او د ښه معاملے په ذریعه او د خالص محبت درې نښې دي: (1) وفا دې بغیر د څه ویرې ترهې نه وي (2) عطا دې بغیر د سوال نه وي (3) تعریف دې بغیر د جود و سخاوت نه وي او د اولیاؤ درې نښې دي: (1) د دوئي ارادے او افکار د الله پاک د پاره وي (2) د دوئي مصروفیت د الله پاک د

پاره وي او (3) دوئي د هر څه نه د ځان اوزګارولو سره د الله پاک په لور منډې وهي.

(حلية الاولياء، 8/411، رقم: 12718 مُلتقطاً)

❁ چا چې په الله پاک باندې باور اوکړو نو هغه به هغه ته نفع ورکوي او چا چې د هغه د پاره عاجزي اوکړه نو هغه به هغه ته اوچته مرتبه عطا کړي.

(سير اعلام النبلاء، 8/218، رقم: 1425)

❁ کله چې الله پاک د يو بنده سره د ښيګړې اراده فرمائي نو د هغه د پاره د عمل دروازه برسيره کړي او کله چې الله پاک د يو بنده سره د بدئ اراده فرمائي نو د هغه د پاره د عمل دروازه بنده کړي.

(سير اعلام النبلاء، 8/217، رقم: 1425)

❁ اوګړه اُميد د نيک او بنه کار نه منع کوي.

(حلية الاولياء، 8/408، حديث: 12703 ملتقطاً)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د معروف کرخي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه دعاګانے

د حضرت معروف کرخي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په دعاګانو کښې دا هم وه: (اے الله پاک!) مونږه د هغه خلقو نه جوړ کړې کوم چې ستا سره په ملاقات باندې ايمان لري، ستا په فيصله باندې راضي اوسي، ستا په ورکړه باندې خوشحاله اوسي او ستا نه داسې ويريږي لکه څنګه چې د ويريدلو حق دے.

(حلية الاولياء، 8/405، حديث: 12687)

حضرت معروف کرخي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ به داسې دُعا کوله: اَللّٰھُمَّ یَا مَنۡ وَفَّقَ اَھلَ الۡخَیۡرِ لِلۡخَیۡرِ وَاَعَانَھُمۡ عَلَیۡہِ وَفِّقۡنَا لِلۡخَیۡرِ وَاَعِنَّا عَلَیۡہِ یعنې اے الله پاک! اے هغه ذاته چا چې نیک بندګانو له د نیک کارونو توفیق ورکړو او په هغې باندې ئې د هغوئي مدد هم اوفرمائیلو! مونږ له هم د نیکئ توفیق راکړه او په هغې باندې زمونږه مدد هم اوفرمایه."

(الروض الفائق، ص: 185)

## د معروف کرخي اَوراد او وظیفے

اے عاشقانِ اولیاء! زمونږ د بزرګانِ دینو دا دستور پاتې دے چې هغوئي خپلو مریدانو او متعلقینو ته د مصیبتونو او مرضونو نه د نجات، رزق کښې د برکت او د نورو اهمو چارو په باره کښې اَوراد او وظیفے عطا کوي. حضرت معروف کرخي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ هم وخت په وخت خپلو مریدانو له اوراد او وظیفے ورکړې دي،

## د ابدالو د فضیلت حاصلولو وظیفه

حضرت معروف کرخي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ اوفرمائیل چې کوم ګس هره ورځ 10 ځله دا کلمات اَللّٰھُمَّ اَصۡلِحۡ اُمَّۃَ مُحَمَّدٍ اَللّٰھُمَّ فَرِّجۡ عَنۡ اُمَّۃِ مُحَمَّدٍ اَللّٰھُمَّ ارۡحَمۡ اُمَّۃَ مُحَمَّدٍ یعنې اے الله! د اُمّتِ محمدیه اصلاح اوفرمائې، د دوئي مصیبتونه لرې کړې او په دوئي باندې رحم اوکړې." وائي. هغه به په ابدالو کښې اولیکلے شي.

(حلیة الاولیاء، 410/8، حدیث: 12716)

حضرت معروف کرخي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ فرمائي: یو ګس د بیتُ الله شریف نه

د رخصتیدو په وخت اووئیل: اَللّٰھُمَّ لَكَ الۡحَمۡدُ عَدَدَ عَفۡوِكَ عَنۡ خَلۡقِكَ یعنې اے اللهٔ! ستا د پاره دې په دومره شمیر حـمد وي په څومره شمیر تهٔ خپل مخلوق معاف کوې. بیا چې په بَل کال هغه کَس بیا راغے او دا کلمات ئې اووئیل نو هغه یو آواز واوریدو چې تیر کال د کله نه چې تا دا کلمه وئیلې وه د هغه وخت نه مونږه د دې (ثواب) اونه شمیرلے شو.

(حلیة الاولیاء، 410/8، حدیث: 12717 ملتقطاً)

## حاجت پوره کوونکي کلمات

حضرت عبدُ الله بن محمد انصاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه بیانوي: ما حضرت معروف کرخي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه په دې فرمائیلو واوریدو چې کوم کَس د خپلې بسترې نه د جدا کیدو په وخت دا کلمات اووائي:

سُبۡحَانَ اللهِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَلَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَسۡتَغۡفِرُ اللهَ اَللّٰھُمَّ اِنِّیۡ اَسۡاَلُكَ مِنۡ فَضۡلِكَ وَ رَحۡمَتِكَ فَاِنَّھُمَا بِیَدِكَ لَا یَمۡلِکُھُمَا اَحَدٌ سِوَاكَ

یعنې الله، پاک دے او ټول تعریفونه د الله د پاره دي، د الله نه سِوا هیڅ څوک هم معبود نشته او زه د الله نه بخښنه غواړم. اے الله! زه ستا نه ستا د فضل او ستا د رحمت سوال کووم دا دواړه ستا په قبضه کښې دي، ستا نه سِوا هیڅ څوک هم د دې مالک نشته.“ نو الله کریم د بندګانو په حاجتونو باندې مقررې فرښتې یعنې حضرت جبریلِ امین عَلَیۡهِ السَّلَام ته ارشاد اوفرمائي: اے جبریله! زما د بنده حاجت پوره کړه.

(حلیة الاولیاء، 410/8، حدیث: 12718 ملتقطاً)

حضرت يعقوب بن عبد الرحـمٰن رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې ما حضرت محمد بن حسان رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په دې ارشاد فرمائيلو واوريدو چې ما ته حضرت معروف کرخي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ارشاد اوفرمائيلو: "آيا زه تاسو ته لس داسې کلمات اونه ښايم په کومو کښې چې پينځه د دُنيا او پينځه د آخرت د پاره دي، چې څوک هم د دې کلماتو سره د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کوي د الله پاک انعامونه ماندوے." ما عرض اوکړو چې دا راته اوليکلئ، نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: "نه! زه ئې نه ليکـم بلکه زه به ئې هم بيا بيا تا ته وايم لکه څنګه چې حضرت بکـر بن خُنَيس رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ما ته وئيلي وو." هغه کلمات دا دي:

حَسْبِیَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی لِدِیْنِیْ حَسْبِیَ اللّٰہُ عَزَّوَجَلَّ لِدُنْیَایَ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الْکَرِیْمُ لِمَا اَھَمَّنِیْ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الْحَکِیْمُ الْقَوِیُّ لِمَنْ بَغٰی عَلَیَّ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الشَّدِیْدُ لِمَنْ کَادَنِیْ بِسُوْءٍ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الرَّحِیْمُ عِنْدَ الْمَوْتِ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الرَّؤُوْفُ عِنْدَ الْمَسْئَلَۃِ فِی الْقَبْرِ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الْکَرِیْمُ عِنْدَ الْحِسَابِ، حَسْبِیَ اللّٰہُ اللَّطِیْفُ عِنْدَ الْمِیْزَانِ، حَسْبِیَ اللّٰہُ الْقَدِیْرُ عِنْدَ الصِّرَاطِ، حَسْبِیَ اللّٰہُ لَآ اِلٰہَ اِلَّا ھُوَ عَلَیْہِ تَوَکَّلْتُ وَھُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ۔

ترجمه: ما له زما د دين په مُعامَله کښې الله پاک کافي دے، ما له زما د دُنيا په معاملاتو کښې هم الله پاک کافي دے، کومو خبرو چې زه غمژن کړے يم په هغې کښې هم ما له کريم الله کافي دے، په ما باندې سرکشي اختياروونکـو په معامله کښې هم ما له حکمت او قوت والا الله پاک

کافي دے، څوک چې زما سره دهوکه او ټګي کول غواړي د هغه په معامله کښې هم ما له شدت او طاقت والا الله پاک کافي دے، د مرګ په وخت هم ما له رحم کوو نکے الله پاک کافي دے، په قبر کښې د سوال جواب په وخت هم ما له الله پاک کافي دے کوم چې رَؤوف دے، د حساب په وخت هم ما له کرم کوو نکے الله پاک کافي دے، د میزان خوا ته هم ما له لطف او کرم کوونکے الله پاک کافي دے، په پل صراط باندې د تیریدو په وخت هم ما له قدرت والا الله پاک کافي دے، ما له الله پاک کافي دے، د کوم نه سِوا چې هیڅ څوک هم معبود (د عبادت لائق) نشته، په هغه باندې ما باور کړے دے او هم هغه د عرشِ عظیم مالک دے.

## او د دې نه پس دې داسې دعا کوي

اَللّٰهُمَّ یا هادِیَ الْمُضِلِّیْنَ وَ رَاحِمَ الْمُذْنِبِیْنَ وَ مُقِیْلَ عَثَرَاتِ الْعَاثِرِیْنَ اِرْحَمْ عَبْدَكَ ذَا الْخَطَرِ الْعَظِیْمِ الْمُسْلِمِیْنَ كُلِّهِمْ اَجْمَعِیْنَ وَاجْعَلْنَا مِنَ الْاَحْیَآءِ الْمَرْزُوْقِیْنَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ مِّنَ النَّبِیِّیْنَ وَالصِّدِّیْقِیْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِیْنَ اٰمِیْنَ۔ یا رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ!

ترجمه: اے الله پاک! اے ګمراهانو ته هدایت ورکوونکیه! او اے په ګنهګارانو باندې رحم کوونکیه! اے د خطاکارانو خطاګانې معاف کوونکیه! اے د عظیم قدر او منزلت مالکه! په خپله (دې) بنده او په ټولو مسلمانانو باندې رحم اوکړه او مونږه په هغه رزق ورکړے شوو ژوندو

كښې جوړ كړه په كومو چې تا انعام اوفرمائيلو يعني د نبيانو، صديقينو، شهيدانو او نيكو خلقو نه. آمين! يارَبَّ العَالَمِين!

منقول دے چې حضرت عتبه غلام رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خوب كښې اوليدلے شو نو هغوئي (جنت ته د داخليدو په سبب پوښتلو باندې) اووئيل چې زه د دې دعاګانو په بركت جنت ته داخل شوے يم.

## د ذِكر شوې دعا نه پس دا دعا غواړئ

اَللّٰهُمَّ عَالِمَ الْخَفِيَّاتِ، رَفِيْعَ الدَّرَجَاتِ، ذَا الْعَرْشِ، تُلْقِى الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِكَ عَلٰى مَنْ تَشَآءُ مِنْ عِبَادِكَ، غَافِرَ الذَّنْبِ وَقَابِلَ التَّوْبِ، شَدِيْدَ الْعِقَابِ، ذَا الطَّوْلِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ، اِلَيْكَ الْمَصِيْرُ

ترجمه: اے الله پاک! اے په مخفي او پټ څيزونو باندې خبرداره! اے د درجو اوچتوونكيه! اے د عرش مالكه! رُوح ستا د خوښې او مرضۍ مطابق ستا په بندګانو كښې اچولے شي، اے ګناه معاف كوونكيه! او اے توبه قبلوونكي بابركته ذاته! اے د سخت عذاب مالكه! ستا نه سِوا هيڅ څوک هم معبود نشته، ستا په لور ګرځيدل دي.

حضرت ابراهيم صائغ رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چا په خوب كښې اوليدلو نو پوښتنه ئې ترينه اوكړه: "تاسو ته د كوم څيز په سبب نجات ميلاؤ شو؟" نو هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اووئيل چې دغه ذِكر شوې دعاګانې زما د نجات سبب دے.

(قوت القلوب، 24/1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداگران پراڼي سبزي منډي کراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net